د افغانستان اسلامي امارت

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت

د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره

د بشري سرچینو ریاست

بیا ځلې اعلان / اعلان مجدد

| |
|---|
| د بست نوم : آمر تخنیکي تفتیش<br>آمریت :<br>اړونده ریاست ( تفتیش )<br>کود نمبر : 10 |
| کټګوري :<br>بست : 1<br>د اعلان نېټه : 2023/10/04 // 1402/7/12<br>د پای نېټه 2023/10/21 // 1402/7/29 |
| ***هدف وظیفه:***<br>مخابراتي، ټکنالوژۍ، انټر نیټي چارو او په آترا اداری کی د موجوده سیستمونو او پروسو، ارزونه او تخنیکی تفتیش<br>***لایحه وظایف***<br>مسؤلیت های وظیفوي:<br>۱- د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژۍ ، سیستمونواو دیپچلیو وسایلو تجهیزاتو ، پروسو او اړونده پروسیجرونو تخنیکي ارزونه او تفتیش.<br>۲ – د سیستمونو، پروسو او نورو وسیلو د تفتیش له لارې د اړونده ریسکونو معلومول او ورته د مناسبو کړنلارو/ مدیریت چارې برابرول<br>۳ – د تخنیکيتفتیش/ آډیټ راپورونو مسلکي ترتیبول، او د اداري مشرۍ ته د موندنو په رڼا کې تخنیکی او مسلکي نظر وړاندې کول<br>۴ – له اداریسره په مهالیزه ډول د تخنیکي تفتیش پلانونو او کړنلارو جوړول او د هغوی اجرا لپاره مسلکي ملاتړ او مهارتونو برابرول<br>۵ - په اړونده چارو او دندو کې د څانګې/ ډیپارټمنټ همکارانو مسلکي روزنه او رسونه<br>۶ – د اړونده تخنیکي تفتیشونو په رڼا کې د افغانستان له مروجه قوانینو، کړنلارو او پالیسیو په رڼا کې ټاکل شوو مشخصاتو د سیستمونو همغږي معلومول<br>۷ – د مخابراتوصنعت د معیارونو په رڼا کې د سیستمونو جوړولو، ګټې اخیستو پروسیجرونو، سیستمونو خوندتیا، پروګرامولو کنټرول، بیک ایپ، ډیساسټر ریکوري، او سیستمونو د اصولو په رڼا کې د ارزونه/ تفتیش<br>۸ – بله هغه چاره یا دنده چې د فوق امر یا مشرانو لخوا ورسپارل کیږي.<br><br>***مواصفات***<br>په عمومي توګه تخنیکي تفتیش/ ارزونې آمر مکلف دی چې له آترا اداري سره مرسته وکړي تر څو د اړتیا پر مهال د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژۍ شرکتونه له آترا اداري څخه د کار جوازونه لري، په تخنیکي توګه وارزوي او د ارزونې په رڼا کې مناسبې پریکړې او کړنلارې خپلې کړي.<br><br>**تحصیلات، تجارب و مهارت های لازم:**<br><br>1. درجه تحصیل :<br>الف: لږ تر لږه په کمپیوټر ساینس او مخابراتو کې د لیسانس تر کچې پورې زده کړې ولري .<br>ب: په اړونده ساحه کې لږ تر لږه څلور کاله کاري مسلکي تجربه<br>ج: هغوی ته چې پورته ذکر شوو ساحو کې له لیسانس سره د ارزولو په ساحه کې نړیوال تخصصي سند لکه CIA, GSNA, CISA, CISSP, CPA, او یا نور ولري، لومړیتوب ورکول کیږي. |

**2. تجارب لازمه :**

- **3. مهارت های دیگر ( کورس های کوتاه مدت، آموزش های داخل خدمت وغیره )**
- هغوی ته لومړیتوب ورکول کیږي چې د اقتصادي او تخنیکي معلوماتو په ارزولو کې یې روزنیز کورسونه/ ورکشاپونه اخیستي وي
- د لوړې/ پراخې کچې معلوماتو له ارزولو سره باید بلد وي.
- د احصایوي تحلیل ، اقتصادي او تخنیکي وړاندوینې سره تجربه ولري
- توضیحاتو ته پاملرنه او د معلوماتو نمونو پیژندلو وړتیا/ د معلوماتو له کبله راڅرګندیدونکو سلوکونو پیژندلو وړتیا
- د ښه لفظي او لیکلي اړیکو مهارتونه
- د صنعت او ټکنالوژۍ او خپل مسلک اړونده نوو ترتیبونو، څیړنو، سلوکونو، رجحاناتو او نورو سره بلدتیا او ترې ځان خبر ساتل
- د شخصي زده کړې او نورو ته د ښودلو/ تدریس مهارتونه.

**د محترمو کاندیدانو څخه هیله کیږي چې تر څو د اړونده بست لپاره ځانګړې فورمه ډکه او لاندې بریښنالیک ته یې راواستوي او همدارګه کولای شي چې یاده فورمه د بشري سرچینو د استخدام د آمریت څخه ترلاسه کړي .**

**پته : د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت ۱۸ پوړیزه ودانۍ پنځلسم منزل د استخدام آمریت**

**بریښنالیک** jobs@atra.gov.af

د اړیکي شمیره : 0202100763

نوټ : د ټولو محترمو کاندیدانو څخه هیله کیږي چې که چیرې ستاسو تحصیلات او یا هم کاري تجربه د پورته بست سره سمون نه خوري لطفا خپل غوښتنلیک مه را استوئ او همدارنګه خپل ټول تحصیلي اسناد ( دیپلوم یا ترانسکریپټ چې د لوړو زده کړو د وزارت تائیدي ولري) د کاري تجربې اسناد لکه ( لکله قرار داد خط ، د منابع بشري تائیدي ، او که مو دولتي رسمي دنده اجرا کړې وي خلص د سوانح چې د صدور د نیټې څخه یې ۶ میاشتو څخه ډیره موده نه وي تیره شوې) په PDF فایل کې چې اندازه یې د 5MB څخه لوړه نه وي  راواستوئ .

په درنښت